ليکوال او شنانډ: نظرمحمد مطمئن

۱۰ مارچ ۲۰۱٦

## ښه ده چې دري ژبه مې زده ده

کله چې مسجد ته د سبق ویلو له پاره د تګ شوم، له بغدادي قاعدې ، قران کریم، شروط الصلوة او قدوري زده کولو وروسته راته د کلي د مسجد مولوي صاحب وویل چې پنج کتاب به وايې، له هغه وروسته ګلستان او بوستان پرېر پرېر کتابونه مي زده کړل، درې سره په دري ژبه ليکل شوي دي، په ښوونځي کې هم موږ د دري مضمون درلود، زموږ په سېمه (د پنجپايي د مهاجرو کېمپ چې د کوټي ښار څخه نږدي ۷۵ کيلو متره ليري پروت وو) کې دري ژبې ورونه نه وو مګر موږ په دري خبرې کولای شوای.

او تر ډېره چې زه وينم زموږ پښتانه ورونه دري ژبه کې ډېره ستونزه نه لري، لامل يې داهم دی چې د پښتو او دري تعصب نه لري، برعکس زموږ ځيني تاجک ورونه بيا داسي انګيري چې پښتو ويل ورته توبه نعوذ بالله کفر ښکاري.

خبره د سلام ټليفوني شبکي ده، لږ وروسته جريان ليکم، چې په دغه شبکه کې څه روان دي، يو ملګري ته مي ټليفون وکړ چې سلام شبکه د چا ده؟ هغه وخندل ويل يې چې داخو د اشرف غني کاکا ده، ومې ويل چې داسي به نه وي، هغه ويل چې دولتي ده.

د خلقيانو د يو مهم غړي فقيرمحمد فقير کيسه راته رحمتي ګيلانوال صاحب کوله چې هغه د يوې پېښي له امله له نورمحمد تره کي او حفيظ الله امين سره ملګرى شو، د پاچا ظاهر وخت وو، ښاغلى فقير د رحمن بابا ليسي د نهم ټولګي زده کوونکى وو، دکابل ښار کي يو دوکاندار ته ورغى، له هغه يي د کوم شي اخيستلو غوښتنه په پښتو ژبه وکړه، دوکاندار ورته وويل چي "مثل ادم واري ګپ بزن"، فقير او ملګرى يي هلته د دوکاندار سره لاس او ګريوان شول، دوى دوه ملګري وو او تاجک دوکانداران زيات وو، ښه يي ووهل.

ملي بس کي بيرته رحمن بابا ليسي ته روان وو چي په چوکى کي دواړه ملګري همدا کيسه کوي، مخکي چوکى کي هم دوه تنه ناست دي، کله چي د کرايي ټولولو وخت راغى، ددوى کرايه د مخکي چوکى يو داسي چا ورکړه چي لوکس دريشي او نيکټايي يي درلودله، فقير صاحب ورته وويل چي تاسي څوک ياست؟ هغه ورته وويل چي ستاسي خبرې موږ واوريدي، زما له ملګري سره بيا کورته ولاړشئ چي هغه مو په خبره پوه کړي.

ښاغلى فقير وايي چي موږ له همدې معتبر سړي سره دهغه کورته ولاړو، هغه نورمحمد تره کى وو، د خلق ډيموکراتيک ګوند مشر او بيا د خلقيانو د حکومت لومړى واکمن.

تره کي وويل چي په وهلو او ډبولو خبره نه حل کيږي، د حکومت واګي به لاس کي اخلو او بيا به هغه وخت څوک موږ ته نه وايي چي "مثل ادم واري ګپ بزن".

فقيرمحمد فقير بيا د خلق ډيموکراتيک ګوند د واکمني په وخت کي د ولسمشري دفتر رييس او بيا د کورنيو چارو وزير وو.

د استاد برهان الدين رباني د حکومت په وخت کي هم زموږ پښتانه ورونه له همداسيتعصبي چلند سره مخ شوي البته په کابل، مزار شريف او هرات ښارونو کي. کله چي د کرزي لومړي کلونه وو، ورته چلند کيدى چي يوه مشهور کيسه يي د ګل اغا شيرزي له خوا د ملک اصغر څلور لاري کي پر ولاړو وسلوالو ډزي وي.

د ۲۰۱۶ ز کال د مارچ مياشتي پر ۹مه نيټه مي د سلام مخابراتي شبکي ته ددي لپاره زنګ وواهه چي د انټرنيټ موده مي پوره وه، هلته مي پښتو ژبه انتخاب کړه، پرله پسي زنګونه مي ووهل، شپږ واري مي اړيکه ونيوله، راته ويل کيدل چي د شبکي کارکونکي مصروف دي، پوه شوم چي خبره د پښتو د انتخاب ده، دري ژبه مي انتخاب کړه، ډير ژر راسره اړيکه ونيول شوه او په دري ژبه د سلام شبکي کارکوونکي خبري پيل کړي.

په پښتو مي ورته وويل چي د انټرنيټ ستونزه لرم.

ويي ويل دري ووايه، ومي ويل چي که څوک په دري نه پوهيدى، هغه ويل چي بيا دري ځانګي ته زنګ مه وه، پښتو ځانګي ته زنګ ووه، ومي ويل چي د پښتو ځانګي بدبختان خو جواب نه وايي، هغه ويل چي زه په پښتو نه پوهيږم. البته خبري يي په دري ژبه راسره کولي. لږ ورسره توند شوم، ومي ويل چي پښتون ته راپيداکړه، کور دي ودان وي بل چاته يي زنګ وواهه، هغه په پښتو ژبه خبري پيل کړي. ومي ويل پښتون يي، ويل يي هو، ومي ويل مشر مو څوک دى، هغه ويل اجازه نه لرم چي داخبري وکړو، ستونزه دي ووايه.

مياشت مخکي مي زوى انټرنيټ فعاله کاوو، د سلام شبکي پښتو ځانګي جواب نه ورکاوو، خو هغه ددي په ځاى چي دري انتخاب کړي بيا ځل يي انګليسي انتخاب کړه، ډير ژر ځواب ورکول شو، خو بيا هم د سلام کارکونکي له پښتو ويلو ډډه وکړه، او هغه ته يي وويل چي تاسي ولي انګليسي انتخاب کړي، چي پښتو خبري کوئ نو پښتو ځانګي ته زنګ ووهئ.

موږ تعصب نه کوو، خو موږ ولي تعصب کولو ته په لوى لاس مجبوره کيږو، کله راباندي د ترهګرو نومونه ږدي، په ولسي جرګه کي حميدزى لالى هم مجبوره شو چي د تاجکو ورونو د توپيري چلند له امله غوسه شي.

موږ دا دعوا ونه کړه چي ولي په ټليفوني شبکو کي په لومړى توکمه دري او په دويمه توکمه پښتو انتخاب کوو،حتمي ده چي په ذهن کي خو مو دغه توپيري چلند ځوروي.

موږ دعوا ونه کړه چي ولي د وزارتونو ليکونه په دري ژبه دي، موږ ونه ويل چي ولي د بهرنيو چارو رسمي ژبه دري ده هغه چي حکمت کرزى يي هم وايي، خوار به مجبوره وي چي دري خبريوکړي. مګر دومره ديهم ستاسي خواته نه وي چي د پښتو په ويلو موږ تحقير کړئ او دري خبرې راباندىجبري کوئ.

که زموږ د تاجک سياستوالو همدا لوبه روانه وي نو بيا به د ښاغلي فقير او ښاغلىحميدزي په ډول په لوى لاس خلک تعصب ته مجبوره شي. زه پوهيږم چي په ليري پرتو سېمو کي دا ستونزه نشته، يواځي سياستوال همدا کار کوي او په لويو ښارونو کي رواج لري.

ښه اوس نو چاته ګيله وکړو او له چا د اصلاحاتو غوښتنه وکړو چي سلام ټليفوني او انټرنيټي شبکه کي دي اصلاحات راولي، که زه دا غوښتنه کوم سمدستي ويل کيږي چي متعصب يي، او خوار غني خو له همدې ويرې خپل تخلص (احمدزى) هم ليرېکړ، د ولسي جرګي د ودادنى د پرانستي پر مهال چي د هند لومړي وزير د افغانانو او ځانګړي

ډول د هغه په اصطلاح د پټانانو زيات صفت وکړ، د هغوی له قهرمانيو څخه يي يادونه وکړه، غني چي دريځ ته ودريد سم د واره يي دري پيل کړه، لکه چي بيخي يي پښتو زده نه وي.

تيره اونی په يو کورني ټلويزيون کي مناظره وه، د افغان ملت ګوند پخواني مشر انوارالحق احدي‌او د اسلامي حزب مشر عبدالهادي ارغنديوال دواړو دري خبرې وکړي ، کله چي يو ناست تن په پښتو ژبه ورڅخه پوښتنه وکړه بيا دوی هم پښتو جواب ورکړ، که د سلني له مخي ووايو هغه ورځ ۹۰ سلنه همدي دوو مشرانو دري ژبه ويله. موږ بد ورته نه وايو او نه تعصب لرو.

محقق که د مزاريډ مرګ په ورځ د خپلو هزاره ګيانو د حقونو غوښتنه کوي هغه هم تر خپل حد زيات، هغه ته به بيا کومه ورځډ قهرمان لقب ورکول کيږي، که دوستم د خپلو خلکو د حقونو غوښتنه له حده زياته کوي‌هغه ته به يوه ورځډ مارشال رتبه ورکول کيږي، که تاجک په واژه خوله نارې وهي چي د وزارتونو لوحي دي په پښتو نه ليکل کيږي هغوی ته همدا حق ورکول کيږي، خو که پښتون کومه خبره د ژبې دحقونو کوي نو بيا خو ترهګر دی، يابه زندان ته ځي او يابه داسي لومي ورته جوړيږي چي بيا له کوره د وتلو جرئت هم ورته پاتي نه شي.

زه په ولسي جرګه او مشرانو جرګه کي د پښتنو وکيلانو څخه هم توقع نه لرم، او په کابينه کي د پښتنو وزيرانو څخه هم تمه نه لرم، جهاني صاحب خوار خو يي بيخي چوپ کړی، نږدې ده چي د ايران پيسي واخلي.

په دي تمه چي د پښتو ژبې او پښتنو سره توپيري چلند پای ومومي او په لوی لاس قومي او نژادي توپيرونو ته لمن ونه وهل شي.

**يادداشت:**

*با تأسف بايد افزود:*

*از گذشته های دور بدين سو، يعنی از زمانی که استعمار به دخالت های مستقيم خود در افغانستان آغاز نمود، با تعقيب ستراتيژی "تفرقه بينداز و حکومت کن" بين باشندگان افغانستان به بهانه های مختلف زبانی، قومی، نژادی و مذهبی اختلاف به وجود آورده، کوشيدند بدان وسيله پايه و اساسی را که به وسيلۀ اعليحضرت "احمد شاه ابدالی" حين ايجاد کشور افغانستان گذاشته شده بود، از بن ويران نمايند.*

*يکی از روشهای قدرت های استعماری در زمينه، سازماندهی سيستم تعليم و تربيت ناقص و ضد منافع ملی خاندان طلائی و جانشينان آنها در افغانستان بود که به جای آن که فراگيری يک زبان را به مثابۀ برخورداری از يک وسيلۀ بيشتر تبليغ و ترويج نمايند، آن را نمودی از سلطۀ قومی در اذهان همگان جای داده، زمينه ساز آن گرديدند تا اطفال غير پشتون، و حتا پشتونهائی که پدران شان دهه های چندی در مناطق غير پشتون بودوباش داشتند؛ نتوانند به زبان پشتو انس و الفت لازم جهت فراگيری آن زبان در خود به وجود بياورند.*

*از نظر ما تمام آنهائی که نمی خواهند بپذيرند که زبان فقط وسيلۀ افهام و تفهيم است نه چيزی بيشتر و يا کمتر از آن، عناصری اند که آگاهانه و يا هم نا آگاهانه آب به آسياب دشمن ريخته، تيشه بر ريشۀ وحدت و تماميت ارضی کشور می زنند.*

*متصديان و همکاران تخنيکی پورتال "افغانستان آزاد-آزاد افغانستان" ضمن آن که موجوديت و تبارز چنين تعصباتی را عاری از شأن يک انسان قرن بيست و يکم دانسته آن را به شدت محکوم می نمايند و به اين افتخار می ورزند که همکاران قلمی چند زبانه با پورتال همکاری می نمايند، با افتخار تمام می افزايد:*

*پورتال "افغانستان آزاد-آزاد افغانستان" اولین و یگانه سایتی است، که به علاوهٔ تدویر برنامهٔ آموزش "زبان پشتو" و توقع از همکاران قلمی خود تا مطالب ارزشمند شان را خود به زبان پشتو ترجمه نموده تقدیم خوانندگان نمایند، از طریق همکاری با مؤسسهٔ ترجمه و برگردان "سند" در نشر مطالب به زبان پشتو، پیشگامی و پیشتازی اش را به اثبات برساند.*

*بدون معطلی باید بیفزائیم که این تلاش ما نه به معنای زانو زدن به شئونیزم و یا هم ترس از پشتونهاست، بلکه در اساس اعتقاد ما بر آن است که دانستن یک زبان به معنای آشنائی با یک فرهنگ بوده، در کشوری مانند افغانستان که به گفتهٔ یکی از متصدیان پورتال آقای دیپلوم انجنیر "خلیل الله معروفی"، "گلستان اقوام" است، آگاهی و دسترسی به زبانهای کشور، زمینه ساز تحکیم شیرازهٔ وحدت و موجودیت کشور می تواند باشد؛ به همین اساس است که ما بار ها از متکلمان و همکاران قلمی که زبان مادری شان به غیر از دری و پشتو بوده، تقاضا نموده ایم تا به پیروری از استاد "برکت" و درسهای شان معنون به "بیائید پشتو بیاموزیم"، درسهای "بیائید ترکی، بلوچی، ... بیاموزیم" را رویدست گیرند. صدائی که با تأسف مسؤولیت بی جوابی آن را روشنفکران همان زبان به دوش دارند.*

*ادارهٔ پورتال AA-AA*